پوهنمل حاجي محمد نوزادي

# پارلماني اړو دوړ، استجواب که استيضاح ؟

دروان کال دمی ۱۰ نيټه دپنجشنبي روځ وه چي هيوادوال په خپل قانون جوړونکي ارګان يعني پارلمان کښي يواربيا دقانون ماتولو شاهدان شول او ورپسي ئي دشنبي په ورځ دخپلو غوره کړو پهلوانانو دمنتخب ټيم دبدمعاشي دلوبو تماشا هم وکړه .

دبده مرغه دا ډول لوبي زموږ په پارلمان کښي لومړنی تجربه نده او دپيل ريښو ئي د دوهمي دموکراسي په لسيزه کښي چي دمشروطه نظام په ټنګښت سره دنظر دبيانولو يوه نيم بنده ازادي په کارلويدله ، اوبه وزبيښلي . هغه وخت که ديوي خوا پارلماني مداريانو ددغي ازادي نه بيځايه ګټه پورته کول خودبلي خوا بنسټپالو بدمعاشانوداسلام دسپيځلي دين دبشرپالو اصولو څخه په خپلو ناوړو تعبيرونو سره دپيل شوي نيم ژواندي دموکراسی دوژلو دپاره لاره پرانيستل .

دادي وينو چي داځل هم دنژدي ۴۰ کالو وروسته دهغه وخت په پرتله دنسبتاً پراخي دموکراسی اودبيان دنسبتا پياوړي ازادي په فرصت په پارلمان کښي اړو دوړ هغو کسانو رامنځته کړچي په متحده جبهه کښي ئي درياستي مرکزي نظام ړنګول اوپرځاي ئي دپارلماني نظام ټينګول خپله بنسټيزه رسمي موخه ښودلي ده . وطنوالو وليدل چي څنګه ددوي لخوا په غوره شوي پارلمان کښي يوه وکيل چي پر شريعت ئي برابره ښه مناسبه ږيره هم درلوده پريوه بل وکيل باندي چي اُتو کړي پاکه دريشي ئي اغوستي ، ښکلي نيکټايي ئي تړلي او په نرمونرموالفاظو ئي ارامي ارامي مؤدبانه خبري کولي ، د سپکوسپورو په ناروسره دبوتلانو وارونه وکړه .

لکه څنګه چي مي په خپلو تيرو ليکنو کښي پر دي خبره ټينګار ګړيدي ، يواربيا يادوم چي پارلماني سيستم دپرنسيپ له مخي کومه بدي نلري مګر ددغه نظام دپاره ضرور داده چي دخلکو ذهنيت بايد په رښتني اوعملي توګه ددموکراسي دپرنسيپونو ومنلو ته روزل شوي وي او ددي کار دپاره ئي مناسبه وده کړي وي ترڅودخپلو حقونو او مکلفيتونو سرحدونه وپيژني ، دزړه له کومي ئي ومراعات کولو ته اماده ګي ولري اودنورو داډول حقونوته درناوی وکړي . دغه کار بيا له ټولو نه ښه اوپه اسانه توګه ديوه دموکراتيک اساسي قانون سره ديوه متمرکز رياستي نظام په مرسته ترسره کيدلاي شي .

همداسي چي څومياشتي وړاندي دپارلمان په رسمي غونډي کښي پريوي افغاني تورسرې ميرمني ملالۍ جويا باندي دنارينه وو وکيلانو لخوادبوتلانو وارونه دسپکو سپورو په ناوړو الفاظو بدرګه شول ، دادي اخيرني پارلماني بد معاشيو يواربيا داپه ډاګه وښودل چي تر اوسه لا زموږ په هيواد کښي دخلکو داوسني ذهنيت په نظرکي درلودلو سره پارلماني سيستم نه يوازي داچي دټولنيزو کړکيچونو څخه دوتلو لاره نده بلکه نوموړو ناخوالو ريښي لا نوري هم ژوري بيايي .

رابه شو دپارلماني استجواب اوا ستيضاح مسلې ته او وبه ګورو چي دا وروستنۍ پهلوانې ولې داستجواب نه راپيل او څنګه په استيضاح واوښتل ؟ ددي سوال دځواب دپاره به له هر څه نه وړاندي ضرور وي چي ددغو دوو ترمنالوژيکو لغاتونو دتفاوت پر څرنګوالي باندي لږ غونډي رڼاو اچول شي :

استجواب او استيضاح دوه عربي لغاتونه دي چي دلومړي معنا ئي ( دجواب غوښتنه ) يعني ديوه ټاکلي سوال په اړوند دجواب ترلاسه کول دي . داستيضاح لغوي معنا بيا ( دوضاحت يا څرګندتوب غوښتنه ) ده يعني ديوي مسئلې په هکله چي جواب ئي تقريبا معلوم دي خودپراخ څرګندالي اوڅرنګوالي وترلاسه کولو ته لا اړتيا شته .

په پارلماني چارو کښي ددغو دوو اصطلاح ګانو ترمنځ تفاوت دادي چي په استجواب کي دموضوع جديت کمزوری او په استيضاح کي بيا هغه زورور دي . پارلمان داساسي قانون له مخي داصلاحيت او حتي مکلفيت لري چي دحکومت پرکړنو باندي نظارت وکړي او ددي کارد تر سره کولوبنسټيزي لاري استجواب او استيضاح ده خو کله چي خبره دومره مهمه نه وي کيدلا شي يوازي په استماع يعني دمسئلې په اړه دمعلوماتو په اروېدو سره بسنه وشي . دحکومت دغړو( وزيرانو ) دوظيفوي صلاحيت په پام کي نيولو سره ، که ديوه وزير څخه ديوي ټاکلي موضوع په باره کي چي دده دصلاحيت په چوکاټ کښي ډيره جدي شميرل کيدلاي نشي دجواب ترلاسه کول مطرح وي نو پارلمان هغه داستجواب پخاطر راغواړي او پوښتني تري کوي .

خو که چيري کوم وزير ترخپل صلاحيت زيات تيری کړي وي ، يا ئي دضرورت پر وخت خپل وظيفوي مکلفيت هيرکړي اويائي دورته تفويض شوي صلاحيت نه پوره کار نه وي اخيستي چي پدي توګه ناوړي ستونزمني پايلې رامنځته شوي وي ، بيانو موضوع جدي اونوموړی وزير داستيضاح دپاره پارلمان ته دپوښتنو ګروېږنو پخاطر راغوښتل کيږي . دوهم تفاوت دنوموړو اصطلاح ګانو تر منځ دادي چي داستيضاح په صورت کي که دوزير څرګندونې دوکيلانو دقناعت وړ نه وي ، دوي

کولاي شي له هغه نه خپل داعتماد رايه چي دټاکل کيدو پروخت ئي ورکړي وه بيرته تري واخلي ، مګر داستجواب پر وخت داکار شونی ندي ځکه موضوع دده دصلاحيت په دايره کي دده په هکله ډيره زياته مهمه نه ګڼل کيږي.

اوس به نو وګورو چي ولي زموږ دپارلمان اخيرنی ډرامه په استجواب پيل او دڅه پخاطر استيضاح ته واوښتل ؟

دايران څخه د په زوره راشړل شوو کډوالو موضوع په رښتياهم يوه مهمه ستونزه او پدي ارزيده چي دلومي سر نه جدي وګڼل شي او له مخي ئي دکډوالو چارو وزير استيضاح ته راوغوښتل شي . نوبيا ولي داسي ونه شوه او نوموړی وزير دخارجه چارو دوزير سره يو ځاي او دواړه يوازي داستجواب دپاره راوغوښتل شول ؟ اصلي خبره دلته ده چي ددغي ډرامي دسناريو ليکونکي پدي ښه پوهيدل چي ديادي شوي موضوع په هکله دخارجه چارو وزير دده دوظيفوي صلاحيتونو اومکلفيتونو په پام کي نيولو سره واستيضاح ته دهغه دراغوښتلو مسئله موجه ، پرنسيپي او قانع کوونکې دلايل درلودلاي نشي او ديو شمير واقعبينو وکيلانو لخوا به په اصولي او منطقي ډول رد شي . پدي توګه دوي موضوع سپکه ونيول ، وکيلان ئي غافلګير کړه او دواړو وزيرانو ته ئي په يوه وار، هغه هم داستجواب پيشنهاد وړاندي کړ . البته داستجواب په هکله د وړاديز د ردولو خبره بيځايه ده نو دټولو لخوا دتائيد وړ وګرځيد . کله چي وزيران داولسي جرګي غونډي ته حاضر شول نو دسناريو سره سم وضع له نژدي وڅيړل شوه ،ديوتعداد قهريدلو وکيلانو داحساساتو نه په ګټه اخيستنه ئي فوراً داستجواب څخه واستيضاح ته داړولو خبره رامنځ ته کړه .

د اعتماد درايي بيرته اخيستل معمولا په ښکاره ډول ترسره کيږي خودلته ئي بياهم دسناريو له مخي دپټو رايو اچوني خبره تائيد او عملي کړه . بله نيمګړتيا داوه چي بايد دشنبي په ورځ يوازي دهغي يوي جنجالي رايي خبره سپينه شوي واي ، مګر دوي بيا دسره رايي واچولي . داچي پدي ورځ دحاضرو وکيلانو شمير دپنجشنبي دورځي په پرتله زيات وو ، نو دمنفي رايو تفاوت هم ډير شو . پدي کار کي بيا اصولي نيمګړتيا داوه چي دتيري ورځي غيرحاضرو وکيلانوبايد سپينه رايه ورکړي واي ځکه چي دوي تيره ورځ حاضر نه وه او دښاغلي رنګين دادفر سپنتالخوا وړاندي شوي جوابونه دوي په باالمواجه ډول اروېدي نه وه او لدي کبله ورته ديوه وزير دشرنوشت په هکله عيني قضاوت کول مشکل کار وو .

په پاي کي يوار بيا غواړم دپايلې په توګه يا ده کړم چي دهيواد عادي وګړي خولاځه ، ددوي دغوره شوي هوښياري ډلې ذهنيت لاهم تر اوسه ددموکراتيکو پرنسيپونو ومنلو ته اماده ندي ، پدي خاطر نو د هيواد دپاره دصدارتي پارلماني سيستم وړانديز کول دوخت نه ډيره مخکي خبره ده چي د وطنوالو پام ورته په ټينګه راګرځوم .

اولس ته دارام او سوکاله ژوند په هيله!

پای